د سروزرو ونه

او د ملانصرالدين نورې زړه پورې نکلونه

ژباړن: نعمت الله رسولي

ډرانو ماشومانو په دې کتاب کې دا نکلونه لولئ:

نکل	مخ
لومړی نکل: د سرو زرو ونه	۱
دویم نکل: دوه پوړیز کور	۱۳
درېیم نکل: د چلونو بوجۍ	۱۹
څلورم نکل: د سیوري پلورل	۲۵
پنځم نکل: بلارب لوښی	۳۸

ددې کتاب پر اخیستلو مو‌ږ ته د بل کتاب د چاپ زمینه برابره کړئ!

ختیځ بیا رغونې اداره (کور)،
خپرونو څانګه، خپرنې لړۍ ۳۷

PROPERTY OF ACKU 9941
PROPERTY OF ARIC Established 1989

د سرو زرو ونه

او د ملا نصرالدین نور په زړه پورې نکلونه

ژباړن: نعمت الله رسولي

بسم الله الرحمن الرحيم

کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم	: د سروزرو ونه او د ملانصرالدین نور په زړه پروې نکلونه
ژباړن	: نعمت الله رسولي
ایډیټ	: ډاکټر م. ف. بزګر
خپرونکی	: ختیځ بیا رغونې اداره (کور) د خپرونو څانګه
	اهتمام : حفیظ الله تراب
	تایپ او ډیزاین : کور
د چاپ لګښت	: د افغانانو د لوست پروژه (ARP) Afghan Reading Project
چاپنېټه	: وری ۱۳۸۱/ ۲۰۰۲ مارچ
چاپشمېر	: ۱۰۰۰ ټوکه
د خپرونو لړ	: ۳۷

© د چاپ ټول حقوق محفوظ دي.

زموږ پته: G.P.O. Box 607, Pehawar, Pakistan

E-mail: kor_bazger@hotmail.com

د ارتباط نورې پتې د کتاب په پای کې وګورئ!

د لوی او بښونکي خدای په نامه

یو څو خبرې

خوږو ماشومانو السلام علیکم! تاسې ته څرګنده ده چې له علم او پوهې څخه پرته انسان بشپړ نه وي، زمونږ ستر پیغمبر محمد ﷺ فرمایلي دي: "علم زده کړي ان که په چین کې وي" نو د علم او پوهې د لاس ته راوړلو لپاره باید مونږ هڅه وکړو، د پوهې په وسیله مونږ ځان او جهان پېژندلای شو. د پرمختللو او وروسته پاتې هېوادونو توپیر په دې کې دی چې د پرمختللو هېوادونو وګړو د علم په وسیله خپل ژوند ښه کړی او خپل هېواد یې ښایسته او مترقي کړی دی، که مونږ هم د پوهې او علم پسې هڅه وکړو او په خپل منځ کې متفق اوسو نو زمونږ ګران هېواد افغانستان به هم یو له پرمختللو هېوادونو څخه شي او ټول به انشاالله ښایسته او روښانه راتلونکې ولري.

خوږو ماشومانو! دا کتاب له انګلیسي ژبې څخه ښاغلي نعمت الله رسولي ستاسې لپاره ژباړلی دی چې ویې لولي او خوند ترې واخلئ. له لوستلو وروسته کتاب ښه وساتئ او کله کله یې خپلو ګاونډیانو او ټولګیوالو ته هم امانت ورکوئ چې هغوی یې هم ولولي او د ملانصرالدین له په زړه پورې نکلونو څخه خوند واخلي.

کور هڅه کوي چې ستاسې لپاره نور په زړه پورې کتابونه هم چاپ کړي. اوتاسې د فارغ وخت لپاره یو څه ولرئ چې ویې لولئ. تاسې به زمونږ نور کتابونه لکه د سندباد پېښې، د طرابلس زمریان، د اپینو لار او د مخدراتو په اړه انتباهي ټوکې لوستي وي، که مو نه وي لوستي نو کوښښ وکړئ چې هغه هم پیدا کړئ او ویې لولئ.

ښایسته ماشومانو! تاسې او ستاسې رسولي کاکا ته د دې ښایسته کتاب د چاپولو مبارکي وایم او له هغوی څخه چې د دې کتاب په چاپ کې یې له مونږ سره مالي مرسته کړې (ARP) ډېره منه کوم او تاسې د دې ښکلي کتاب لوستلو ته رابولم. هیر مو نه شي چې خامخا زمونږ د چاپ شوو کتابونو په اړه خپل نظر مونږ ته راولېږئ.

په ډېره مینه

محمد فرید بزګر

د سرو زرو ونه

و نه و، د زمکې پر مخ يو شوم شتمن و چې مسعود نومېده. دغه شوم شتمن يوه ورځ ملا نصرالدين وليد، چې د لارې پر سر ناست او له غلبيل څخه څه شی چنوي.

مسعود تړې په ډېر تعجب پوښتنه وکړه؛ "ای چالاکه! دا څه لوبه دې پيل کړی ده؟

ملا نصرالدين ورته په ځواب کې وويل: وينې چې سره زر چنوم. بيا يې کرم، چې کله له خيره راشنه شو، نو د ډېرو شتو خاوند به شم.

شوم شتمن تړې په ډېرې حيرانتيا بيا پوښتنه وکړه: زما ګرانه دوسته! دا سره زر چې ته يې کرې دا به راوخيژي؟

ملا نصرالدین ورته خبره په خندا ورغـبرګه کـړه، "زه اوس یـو ګرام سره زر کرم او تر راتلونکې خـالي ورځې پـورې بـه د لسـو ګرامو سرو زرو خاوند شم."

که نه یې منې، نو راتلونکې خالي زمونږ کور ته راشه هر څه بـه په خپلو سـترګو وګورې، چـې زه څرنـګه دغـه سـره زر لاس تـه راوړم؟

مسعود زړه کې وویل: خدای پاک ما ته ډېره ښه موقع راکـړې، چې زه هم د ډېرو شتو خاوند شم. هغه ډېر خوشحاله و او تر څه فکر وروسته یې وویل: "ای، زما ګرانه ملګریه!

زما په تا بـاور دی. مـور دواړه بـاید دا کـار پـه ګډه وکـړو. د حاصل په وخت به اتیا په سلو کې سره زر مـا تـه راکـړې، ځکـه چې ځمکه زما ده، نور پاتې یې ستا.

ملا نصرالدین ورته په ډېره خوشحالۍ ځواب ورکړ: " پوه شـوم که چېرته زما حاصلات لس ګرامه و، له هغې څخه به دوه ګرامـه زما شي او نور اته ګرامه یې ستا. بیخي سمه ده پـه دې ډول بـه زما یو ګرام سره په دوه ګرامه بدل شي."

خو سره له دې مسعود په دې شفاهي ټرون باور ونه کړ او فکر يې کاوه چې د خولې په وينا څوک دومره باور نه کوي، نو يو قاضي يې راوغوښت چې د دې خبرې شاهد وي. قاضي ومنله؛ "چې چېرته مو خوښه وي، تاسې کولای شئ سره زر وکړئ"، خو ملا نصرالدين ته يې وويل،" دا دې په ياد وي، چې ته بايد

مسعود ته راتلونکې خالي اته ګرامه سره زر ورکړې.

اووه ورځې وروسته، ملا نصرالدين اته ګرامه سره زر مسعود ته راوړل. مسعود چې کله دغه سره وليدل، نو خوله يې له ډېرې حيرانتيا څخه نه راغونډېده. هغه دغه سره زر په خپلو لاسونو

کې وتلل او په ډېر احتیاط یې ښه امتحان کړل. هغه ته دا جوته شوه چې په رښتیا سره زر دي. مسعود له ډېرې خوښۍ په سختۍ خبرې کولې.

کله چې ملا نصرالدین رخصتېده، نو مسعود ور غږ کړ: ته په رښتیا ډېر هوښیار یې! دا زما برخه سره زر درسره ښېرته واخله دا او هغه ستا خپله برخه بیا وکړه، نو راتلونکې خالي به ما ته زما برخه اتیا ګرامه سره زر راوړې

هوکې زما ښاغلیه دوسته! فکر مه کوه، زه به راتلونکې خالي تا ته خپله برخه پوره راوړم.



یوه اونۍ وروسته مسعود د اتیا ګرامه سروزرو څښتن شو.

مسعود له ملا نصرالدین څخه پوښتنه وکړه؛ ولې دې سره زر نه کړې؟

ملا نصرالدین ورته وویل: زه

دومره سره زر له کومه کړم چې ویې کړم؟

مسعود سمدلاسه خپلو سړو ته امر وکړ چې دوه صندقونه له سرو زرو ډک راوړئ. بیا یې دغه ټول سره زر ملا نصر الدین ته ورکړل. او ورته یې وویل: "فکر دې وي چې دا کوم دوه ګرامه یا لس ګرامه سره زر نه دي، پوره دوه صندوقه دي. راتلونکې اونۍ باید ما ته په شمار شپاړس صندوقه سره زر راوړې، نه یو ګرام کم نه یو ګرام زیات!"



یوه اونۍ وروسته، ملا نصرالدین چې ډېر خپه معلومیده مسعود ته ورغی. مسعود په خوشالۍ د هغه سترې مې شي ته را ډمخه شو او ورته یې وویل: "اوه زما ښاغلی دوسته! خرګاډی به ضرور د حویلۍ د باندې له سرو زرو څخه ډک ولاړ وي؟



اه زما قدرمن ملګريـــه، څومـره ستره بدمرغـي! لـه دې سره ملانصرالدين په ژړا پيل وکړ او زياته يې کـړه "ستا بـه هـم پـام شوی وي چې دا څو ورځې باران ونه وريـده، نـو زمـوږ د سـرو زرو څه فصل چې ولاړ و هغه ټول وچ شو! مـوږ هـرڅه لـه لاسـه ورکړل. يوازې فصل نه، بلکې څه چې مو کرلي وو.

د دې خبرې په اوريدو مسعود چغې پېل کـړې، لـه ډېره قـهره يې له خولې ځکونه بادیدل او ويل يـې: دا چتيـات دي! دروغ دي! د سرو زرو ونې هم وچېږي؟

ملا نصرالدين ورته په ارامي وويل: که چېرې دې زما په خـبره باور نه وي، نو قاضي راوغواړه چې خبره سپينه کړي.

مسعود يو سړی د قاضي پسې واسـتاوه. قـاضي راغـی. "زه پـه ټوله نړۍ کې يو منل شوی منصف قاضي يم، که هر يوه له تاسې

څخه دروغ وویل نو هغه ته به زه لـــه بښنې پرتـه سـخته سـزا ورکړم."



ملا نصرالدین وویل: ډېر ښه، مهرباني وکړه او له مسعود څخـــه پوښتنه وکړه، ده ولې دا منله، چې اتیا ګرامه سره زر چې ده تـه تېره اونۍ ما ورکړل، د همدې زمکې حاصل و. نو هغه څنګه نـه مني چې د سرو زرو کښت نه شي وچېدای.



د مسعود خوله ورانه ورانه کېده، خو څه يې نه شو ويلای.

له دې وروسته ملا نصرالدين خپلو هغو ملګرو ته راغی له کومو څخه چې يې سره زر پور کړي و. هغوی ته يې د هغـوی د سـرو زرو لس چنده بيرته ورکړل.

مخکې له دې چې دغه خلک د ملا نصرالدین څخه مننه وکړي، ملا نصرالدین په خپل واړه خره سپور او په خپله مخه ولاړ.

دویم نکل

دوہ پوړیز کور

یو ځل ملا نصرالدین له یوه شتمن سړي څخه د سرو زرو سل روپۍ پور واخستې، ملا نصرالدین په دغه پیسو د ځان لپاره یو دوه پوړیز کور ودان کړ.



شتمن په ډېرې سپینې سترګې دغه نوي کور ته کتل. هغه ملانصرالدین ته وویل د کور دغه دویم پوړ دې ما ته په کرایه راکړه، د کرایې روپۍ به په پور کې حسابوو؛ که نه نو ډېر ژر زما پور راکړه.

ملا نصرالدین د شتمن دغه ژړ پېسو غوښتلو ته په فکر کې شـو، مجبور شو چې د هغه خبره ومني او لیکلی تړون یې سره وکړ. د ملا نصرالدین د ورځ څخه لږ مخکې شتمن او کورنۍ یې دغـه نوي کور ته ورغلل.



څو ورځې وروسته، ملا نصرالدین یو مزدور را وغوښت او هغـه ته یې وویل چې د لاندې پوړ دیوال راوغورځوي. شتمن سـړي د دوی د لاندې پوړ د دیوال د ورانولو غږ واورېد. نو پـه منـډه

رابنکته شو او ملا نصرالدين ته يې په وارخطايي وويل: تاسې څه کوئ؟ ليوني شوي ياست؟

ملا نصرالدين ورته وويل: مه ويرېږه، په خپل ځای اوسه! دا زموږ کار دی، په تا پورې څه اړه نه لري او خپل کار ته يې دوام ورکړ.

شتمن چې دېر زيات وېريده او چغې يې وهلې چې زه په دويم پوړ کې اوسېږم، که چېرې دا کور کوم چې ته يې لاندی پوړ ورانوې؛ پاسنی پوړ هم رالوېږي نو ما ته به څه پېښ شي؟

ملا نصرالدین ورته وویل: دا زموږ کار نه دی چې له تاسې سره څه کېږي؛ موږ یوازې لاندې پوړ ورانوو، د دویم پوړ سره زموږ څه کار نشته! ته پوه شه او پاس پوړ دې. کله چې موږ کار کوو نو پام کوه چې پر سرونو مو راونه لوېږي او خپل کار ته یې د پخوا په شان دوام ورکړ.



له لږ فکر وروسته شتمن سړي ملا نصرالدین ته په عاجزۍ وویل: زما ګرانه ملګریه مهرباني وکړه دغه لومړی پوړ پر موږ را

خرڅ کړه. ملا نصرالدین ورته په ډېر ډاډ وویل: که تاسې غواړئ، چې دغه لومړی پوړ په پښو واخلئ، نو ما ته پوره دوه سوه د سرو زرو روپۍ راکړئ، چې یو ګرام هم پکې کم نه وي! شتمن د دې په اوربدو بیخي ګونګ شو او هیڅ یې هم نه شو ویلای.

دویم پوړ ته د پورته کېدو پر وخت یې ورته وویل: بله چاره نشته! هغه ژر پښې راوړې او ملا نصرالدین ته یې ورکړې. ملانصرالدین خوشحال په خپله مخه روان شو.



درپیم نکل

د چلونو بوجی

یو پاچا خپل نوکر ته وویل: اوریدلي مي دي چې زمور سیمې ته نږدې د ملانصرالدین په نوم یو څوک اوسیږي، د هغه د هوښیارتیا او چلونو په اړه مېډېر څه اوریدلي دي، زه غواړم چې معلومه کړم چې هغه په رښتیا هوښیار دی او که خلک ورپسې هسې خبرې کوي؟

نوکر یې په ډېر ادب خبره ورغبرګه کړه بلې صیب!
مور هم اوریدلي دي، چې ملا نصرالدین هوښیار او چالاک انسان دی، هېڅوک د هغه د چالاکیو مقابله نه شي کولای!

پادشاه وویل: زه هېڅکله دا خبره نه منم، چې هغه دې تر مـا زیات چالاک او هوښیـار انسان وي؛ او زمـا مقابلـه دې وکړای شي.

نوکر: زه دا منم چې ته هوښیار او چالاک یـې ... پادشـاه یـې خبره ونیوه؛ زه نور پټه خوله نه شم کېناستی او د ملا نصرالدیـن د مقابلې په نیت روان شو. پادشاه به ډېر غرور پر خپل آس سپور شو او تر څو ورځو مزل وروسته د ملا نصرالدین ځای ته ورسېد.

پادشاه ولیده، چې یو کس په پټې کې په کار بوخت دی. له هغه څخه یې د ملا نصرالدین په هکله پوښتنه وکړه: ما اوربدلي دي، چې ستاسې په ځای کې د ملا نصرالدین په نامه یو کس اوسیږي، هغه ځانته ډېر هوښیار او چالاک انسان وایي، ماته د هغه ځای رابنودلای شې چې چېرته اوسیږي؟ غواړم چې د هغه چالاکي له نزدې وګورم او معلومه کړم چې په ریښتیا هوښیار دی او که هسې یې خلک صفتونه کوي؟

ملا نصرالدین ته د دې نااشنا سړي کړه وړه ښه ښکاره نه شول، نو يې ورته وويل: زه خپله ملا نصرالدين يم، څه خدمت مو وکړم؟

OPERTY
ACKU
9941

پادشاه ورته په سپکه ځواب ورکړ: ښه نو ته پخپله ملا نصرالدين يې! ما ستا په هکله ډېر څه اورېدلي دي، چې ډېر هوښيار انسان يې، ايا کولای شې زما سره مقابله وکړې؟ بلکې هېڅکله نه! هېڅوک زما مقابله نشي کولې.

ده ورته وويل: بې ځايه لاپې مه وهه، زه به ستا هوښيارتيا او چالاکي هله معلومه کړم چې د خپلو چالاکيو بوجی له کوره راوړم. نو که په رښتيا زما له چلونو نه ويرېږې لږ انتظار وکړه، چې زه ستا پر اس ولاړ شم او خپله د چلونو بوجی راوړم.

پادشاه ورته په ډېر غرور وویل: که ته د چلونو لس بوجی هم ولرې زه هېڅکله ستا له چلونو نه ویرېږم او پر خپل لاس یې د اس واګې ملا نصرالدین ته ورکړل.



ملا نصرالدین پر اس سپور او د سترګو په رپ کې له سترګو پناه شو. پادشاه تر هغې پورې ځنډ و، چې لمر د غرونو شا ته پریوت او پر اسمان ستوري راڅرګند شول. ملا نصرالدین تر ناوخته را څرګند نه شو. پادشاه پوه شو چې دا د ملا نصرالدین همغه دوکه او چل و چې دی یې مقابلې ته ورغلی و، اخر پادشاه په داسې حال کې چې له شرمه یې بره نه شو کتلی خپل ځای ته راستون شه.

څلورم نکل

د سيوري پلورل

یو ځل په یوه سکلي کلي کې یو کبرجن سړی چې نوید نومېده اوسېده. د ده د کور مخې ته یوه ښایسته ونه رالویه شوې وه. د دې ونې یخ سیوری او سړه هوا تر ډېره ځایه مشهوره وه. د ونې سیوری به کله یو خوا او کله به بل خوا ته. د کلي خلکو



او د لارې مسافرو به همېشه دا غوښتل، چې د دې ونې تر سیوري لاندې خپله دمه جوړه کړي.



خو شوم نوید به هر وخت کلیوالو او مسافرو ته همدا نارې وهلې چې زما د ونې له سیوري څخه ولاړ شئ او د خپلو ونو له سیورو لاندې کښینئ. هغه به دا کار تر هغې کاوه چې کلیوال او مسافر به ټول ولاړل.

کلیوال ډېر زیات خواشیني وو، او نه پوهېدل چې څه وکړي؟ په پای کې یې پرېکړه وکړه، چې په دې هکله له ملا نصرالدین څخه مرسته وغواړي.

ملا نصرالدین د خپلو کلیوالو د ستونزو د لرې کولو په خاطر تر ډېر فکر کولو وروسته دې نتیجې ته ورسېد، چې د خپلو کلیوالو غم او خفګان لرې کړای شي. یوه ورځ ملا نصرالدین په پټې کې په کار بوخت او د خپل یو غریب دوست سره په خبرو مشغول وو چې شوم نوید ته یو عبرتناک درس ورکړي.

ملا نصرالدين له خپل دوست څخه د سروزرو څلور سوه روپۍ پور واخېستې او پر خپل خره سپور شو. لږ ځان سره يې سندرې زمزمه کولې او د نوید کور پر لور روان شو. هغه چې کله دې يخ سيوري ته راورسېد، نو ټول خوله خوله و. نو نوید ور نارې کړې، چې له سيوري څخه وځه! ولې د سيوري لاندې دريدلی يې؟ ملا نصرالدين ورته په ډېر ادب خبره ورغېرګه کړه، زما ګرانه نويده! سړک د هرچا دی، ولې زه دلته استراحت نه شم کولای؟

نوید ورته وويل: دا سمه ده چې سړک د هر چا دی، خو سيوری زما دی، يوازې هغه څوک کولای شي چې د دې

سیوري لاندې کینې چې پېسې ولري او زما د ونې هره پانه د یوې روپۍ هومره ارزښت لري.

ده ورته وویل: چې ستا مقصد دا دی، هغه څوک چې پېسې ولري دلته کښاستلای شي، نو که داسې وي ایا ته دا سیوری پلورې؟ او له دې سره غلې شو.



شوم نوید ورنه پوښتنه وکړه، ایا ستا په شان غریب خلک دا سیوری اخیستلای شي؟ ملا نصرالدین ورته په سړه سینه وویل: چې مور غریب خلک یوو او لاپې نه وهو. ستا د سیوري قیمت څو روپۍ دی، چې زه یې در کړم.

ډیره د تعجب خبره ده! چې یو لاروی دې هم دا کار وکړای شي. او هغه دې دومره زیاتې پېسې ولري. نوید ورته په خواب

کې وویل: هغه څوک دا سیوری اخیستلای شي چې د سروزرو څلور سوه روپۍ ولري.



دواړو یو قاضي راوغوښت او یو ټرون یې لاسلیک کړ، داسې پرېکړه وشوه چې دا ونه تر هغې پورې د ملا نصرالدین ده تر څو پورې چې غړنده یا وچه شوې نه وي. او هېڅوک نه شي کولای چې د خپلې خبرې څخه شاته ولاړ شي او ملا نصرالدین لاس په لاس د سروزرو څلور سوه روپۍ د شاهد په مخ کې ورکړې.

له دغه ټرون وروسته کلیوال بـه پـه شـریکه د سـیوري لانـدې سره راټولیدل، او د ډېرې خوشالۍ نه به يې لوبـې، ټخاکانـې او سندرې سره ویلې مزې يې کولې او له دغه وخت څخه يـې ډېر خوند اخیست.

یوه ورځ ورته نوید ووېل: دلته تاسې څه کوئ؟

مـلا نصرالدیـن ورتـه پـه خنـدا ځواب ورکـړ! دوسـته اوس دا سیوری تاسې پر موږ پلورلې دی موږ اوس په خپل سیوري کـې یوو.

نوید له شرمه د خپل کور انګړ ته ستون شه.

یوه ورځ نوید په خپله باغچه کې پروت و، چې ملا نصرالدین د خپل خره سره یو ځای راغې او په ډېره غوسه یې ملا نصرالدین ته ستغې سپورې پېل کړې.

ملا نصرالدین ورته په ډاډه زړه ځواب ورکړ: ښښه غواړم! زه په خپل سپوري کې ګرځم ستاسې سره مو کوم کار نشته، له هغې وروسته یې خپل خر وتاړه، او د استراحت لپاره پر ځمکه اوږد ځملاست.

نوید د دغه حالت په لیدو او اوږدو پر خپل ځای ودرید او هېڅ یې له لاسه نه کېدل. او پر خپلو کړو ډېر پښېمانه و.



یو ځل چې د بازار ورځ وه شوم نوید خپل ځو دوستان خپل کور ته راوبلل. دوستانو یې چې د ده د کور څخه مخې ته ونه ولیده، نو د ونې سیوري ته کښېناستل، خو په همدغه وخت کې ملا نصرالدین د خپلو ملګرو سره د دوی خوا ته راورسېد.

ملا نصرالدین د نوید مېلمنو ته وویل: دوستانو مورِ دا سیوری د سرو زرو په څلور سوه روپیو اخېستې دا اوس زمورِ سیوری دی. تاسې ته اجازت نشته چې دلته زمورِ تر سیوري لاندې کښېنئ، مېلمانه په پټه خوله د نوید څخه رخصت او خپلو کورونو ته ولاړل. د دې پېښې وروسته د سیوري پلورلو خبره په



کلیوالو کې ډېر مشهوره شوه. کلیوالو د دغه سپوري لاندې یو خندونکی شعر جوړ، او هغوی دغه شعر د نوید د کور په دروازه څوړند کړ.

یوه شپه نوید د سپو په غپاري له خوبه پاڅېد او بهر راووت، څه ګوري چې ملا نصرالدین او نور ملګري یې د دوی د کور له پاسه ناست، اتڼ، چک چکې، سندرې، او په ډیره خوشالۍ سره خپلې خبرې او لوبې کوي.

ملا نصرالدین نوید ته وویل: ښښه غواړو، موږ په خپل سپوري



کې خپله ساعت تیري کوو. تاسې په ډاډه زړه خپل استراحت وکړئ، دلته څوک لاروي نشته مورږ ټول خپل کلیوال یوو.

نوید په داسې حال کې چې له ډېرې غوسې نه یې له خولې څکونه روان وو، چغې وهلې او ویل یې چې: (ما د سپوږمۍ سیوری پر تا نه دې پلورلی). ملا نصرالدین ورته په ځواب کې وویل: مورږ دا خبره په خپل ټرون کې نه ده یاده کړې، ستا لپاره دا غوره ده، چې خپل کور ته لاړ او خپل قرارداد په غور سره وګورې، ته به بیا پخپله ووایې، چې دا سهي خبره ده. له دې سره ملا نصرالدین او د هغه ملګرو په خپلو سندرو ویلو بیا پیل وکړ. وروسته نوید غوښتل چې یوه بله لاره پیدا کړي او د



ملانصرالدین سره د خپلې ستونزې په هکله یو حل ته ورسېږي،

خو د خپلې ښځې او ماشومانو له خوا ډېر وځورل شو او هغه په ډېره سختۍ سره هر شي ته فکرمند وو. د ډېر زیات فکر کولو وروسته ناڅاپي هغه ته دا خیال پیدا شو چې د راتلونکې ورځې په سهار یو بل ځای ته خپله کورنۍ بوځي. ځکه چې نوید صفا پوهېده، چې د ده سرخوږ اوس پیل شو، اوس نو په منظم ډول د ونې سپوږمۍ د لمر او کله د سپوږمۍ د حرکت سره د سړک یو خوا او بله خوا، کله د هغه د کور په حویلۍ او کله د کور سر ته راته او د دې ستونزې د حل لاره نه پېدا کېده. هوښیار ملا نصرالدین به دغه د عبرت کېسه خپلو کلیوالو ته کله به چې دوی دغه خپل سپوري ته راغلل وریادوله.



پنځم نکل

بلارب لوبنی

یوه ورځ ملا نصرالدین له یوه شوم شتمن سړي څخه یو لوښی امانت وغوښت، شوم په دې شرط لوښی ورکړ چې هره ورځ بـه د لوښي کرایه ورکوي. ملانصرالدین له مجبوریتـه د هغـه خـبره ومنله.

څو ورځې وروسته ملا نصرالدین د شتمن کور ته ولاړ او په خوښۍ يې ورته دا خبر ورکړ چې (مبارک دې شه ستا لوښي زوی وزېږاوه!).



شتمن وپوښتل: نه هېڅکله نه! لوښی څرنګه بلارب شو؟

ملا نصرالدین ورته وویل: که ته دا خبره نه منـــې نـو وګوره او له همدې سره يې د خپل جيب څخه يو ښکلی وړوکـــی لـوښی راوويست، او شتمن ته يې په ډېر احتياط پـه لاس کـې ورکـړ، او داسې يې ورته وويل: څومره ښايسته زوی يې راوړی دی!

د دې ناڅاپي ګټې له کبله شتمن ډېر خوشاله و او ویـې ویـل:
"دا ماشوم خو کټ مټ د خپلې مور په څېر دی".

مخکې له دې چې ملا نصرالدین ورڅخه رخصت شي، شـتمن ورته وویل: زما په غټ لوښي پام کوه چې نور بچي وزېږوي. مـلا نصرالدین ورته په ځواب کې وویل: ښه! همداسې به وکړم.



څو ورځې وروسته ملا نصرالدین په منډه د شتمن کور ته ورغې په داسې حال کې چې سترګې یې له اوښکو ډکې وې ورته یې وویل، ای قدرمنه! ستا لپاره خواشینونکی خبر لرم.

شتمن وویل: دا څه وایې!.

ملا نصرالدین وویل: "ستا لوی لوښی زما په کور کې مړ شو"، شتمن ورزیاته کړه، نه هېڅکله نه! لوښی څنګه مړ شه؟

ملا نصرالدین ورغبرګه کړه: قدرمنه که چېرته یو لـوبنی بچـي راوړلای شي، نو یقني خبره ده چې مړ کېدای هـم شـي؟. اوس نو شوم شتمن پوه شو، چې ولې ملانصرالدیـن ده تـه کـوچنـی لوبنی ورکړی و.



شتمن دا خبره په اسانۍ نه منله، او ویـل یـې کـه چیرتـه زمـا لوی لوښی مړ وي، نو ته کولای شی چې د هغه مـړه شـوې بـنه ماته راکړې؟

ملانصرالدین ورته په ډاډ خبره ورغبرګه کړه "مـورِ همـدا اوس اوس د هغه جسد په تنور کې وسوځاوه".

شتمن په داسې حال کې چې ډېر غوسه و او چغې يې وهلې چې؛ "دا ملنډې دي چې پر ما پورې يې کوئ" تــه غــواړې پــه دې چم زما لوی لوبنی غلا کړې، خو ته دا کار نه شې کولای.

ملا نصرالدین ورته وویل: تا زما څخــه مخکــې وړوکــی لــوبنی واخیست، او دواړو یو بل ته په ناندریو او چغو پیل وکړ.

په پای کې د خپلو ګاونډیانو پــه مخکــې د شــرمېدلو لــه وېرې يې خپله ماته ومنلــه، شــوم شــتمن ملانصرالدیــن تــه وویــل: کــه

چېرې ته د خلکو په مخ کې د کوچني لوبني يادونه ونـه کړې، نو زه به تا ته لوی لوبنی در ډالی کړم.

خو ملا نصرالدين د هغه غوښتنه ونه منله، بلکـې خپلـې چغـې يې نورې هم اوچتې کړې. خکـه مـلا نصرالديـن غوښتـل چـې خلک پوه شي چې دا شتمن څومره شوم انسان دی؟!.

ختیځ بیارغونې اداره (کور) د خپرونو څانګه د معیاري کتابونو د چاپ مطمینه مرجع

په دې وروستیو وختونو کې مور چاپ کړي دي:

۱. تواریخ: پښتون، افغان، افغانستان، قدرت الله حداد فرهاد
۲. د اسلامي فقهې اساسات، پوهاند حسین خیل
۳. د موادو مقاومت، د انجنیرۍ د پوهنځي لپاره
۴. سلګۍ په لویدیځ کې، د حفیظ الله تراب د لنډو کیسو درېیمه ټولګه
۵. اجتماعي نظریات، اروانشاد استاد ګل پاچا الفت
۶. په افغانستان کې د قانون جوړونې تاریخي بهیر، قاضي سیداخیتار سباوون
۷. وېره د ساپوهنې په رڼا کې، ډاکټر کبیر ستوری
۸. پښتني قبیلې او خپلوني (د پښتنو قبیلو بشپړ قاموس، د افغانستان د علومو اکاډمۍ پنځه کلنه څېړنه).
۹. طبي مایکروبیولوژي
۱۰. د نړۍ اسلامي هېوادونه او مسلمان اقلیتونه
۱۱. د سرو زرو ونه او د ملانصرالدین نور په زړه پورې نکلونه

چاپ ته چمتو:

- د آریانا موقعیت او د آریائیانو جغرافیایي سیمې، ډاکټر ګلجان ورور وردګ
- د افغانستان پخوانۍ او اوسنۍ پولې، پوهاند غلام جیلانی عارض

دېر ژر به چاپ شي:

- د نولسمې پېړۍ په پای او د شلمې پېړۍ په پیل کې د پښتنو خپلې استوګنځي
- یوه دقیقه یې منیجر
- نښه (د لنډو کیسو ټولګه)
- سرحدات افغانستان در طول تاریخ
- پخچال او مډرن ایرکاندیشن
- د چرګانو ساتنه
- د خاورې حاصلخیزي او د نباتاتو تغذي .
- د اقتصادي پرمختیا تیوري او پلان جوړونه
- جغرافیهٔ اقتصادی افغانستان
- افغانستان در عصر صفاریان، سیدامین مجاهد
- او نور

د خپلو کتابونو د تصحیح، تایپ، ډیزاین او چاپ لپاره زمونږ سره په دې پتو په تماس کې شئ:

Dr. M. Farid Bazger
G.P.O. Box 607, Peshawar, Pakistan
Tel. +92-91-841280, 845637, 45504 Fax. +92-91-841089
Mobile: 092-0303 7869775
E-mail: kor_bazger@hotmail.com

C/O M.Tariq Bazger او یا د دعوت د خپرونې له لارې

P.O.Box 289, 2001 Lillestrom, Norway
Mobile: +47-90856195
Phone and fax: +47-63844384-85
E.mail: dawatnet@start.no
Website:http://home.no.net/dawatnet

ګرانو ماشومانو دلته د هغو کتابونو نومونه چې تاسې تر اوسه لوستلي وليکئ:

۱.
۲.
۳.
۴.
۵.
٦.
۷.
۸.
۹.
۱۰.
۱۱.
۱۲.
۱۳.
۱۴.
۱۵.
۱٦.
۱۷.
۱۸.
۱۹.
۲۰.
۲۱.
۲۲.
۲۳.

ګرانو ماشومانو دلته د خپل هېواد په اړه یو څه ولیکئ: لکه:

زمونږ ګران هېواد افغانستان دی.

هر څوک چې په افغانستان کې اوسیږي افغان دی.

زمونږ ملي بیرغ درې رنګه لري: تور، سور، زرغون

زمونږ ملي ژبه پښتو ده.

زمونږ رسمي ژبې پښتو او دري دي.

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

د یادښت لپاره:

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

The Gold Plant

& Other tales of the Mullah Nasarudin

Published by: Khatiz Organization for Rehabilitation (KOR)

Publication funded by: Afghan Reading Project (ARP)